


# د اسلامي امارت د اتل او قهرمان قوماندان او د رهبري شورى غړى الحاج ملادادالله آخند د شهادت په مناسبت د اسلامي امارت د رهبري شورى له لوري د نوموړي جهاد پاله کورنۍ او ټول مجاهد ملت ته د تسليت پيغام .

تاريخ : 2007/5/14م

بسم الله الرحمن الرحيم

د اسلامي امارت ټول مجاهدين او په خاص ډول رهبري شورى د ستر جهادي شخصيت الحاج ملادادالله اخند د شهادت په اوريدلو سره ددغه درانه غم په اړه د نوموړي کورنۍ ، مجاهد ملت ، او دټولي نړۍ دردمنو او په اسلام مينو مسلمانانو ته د تعذيت او خواخوږۍ مراتب وړاندي کوي او له لوي خداي جل جلاله څخه د صبر جميل او اجر جزيل غوښتونکي دي . انا لله وانا اليه راجعون

شهيد قهرمان ملادادالله اخند که له يوي خوا دباطل په مقابل کې د روان جهاد دتودو سنګرونو يو باعزمه ،صابر ، او بااستقامته مجاهدوو ، خوله بلي خوا د افغانستان د مجاهدملت بلکي د ټولي نړۍ د مسلمانانو د پاره د ميړاني ، استقامت ، نه ستړيدونکى مبارزي او انقلابي کارنامو يوه ريښتني نمونه وه چې نن زمونږ په منځ کې نشته . انا لله و انا اليه راجعون .

شهيد ملادادالله اخند که له يوي خوا د خپل خورا لوى درانه علمي او جهادي خاندان د پاره يو تر ټولو ښه مربي او د سرسايه وه خوله بلي خوا يي د افغانستان او دنوري نړۍ د زياترو مسلمانانو په زړونو کي د يوه خورا ځيرک ، اتل او درانه شخصيت په حيث ځاي نيولى وو .
چې نن به د نړۍ ډيرو دردمندمسلمانان په خورا غمګين زړه او لندو سترګود تسليت الهي هدايت لولي چې انا لله و انا اليه راجعون .

خوله دي سره سره بايد ووايو چې شهيد قهرمان الحاج ملادادالله اخند په خپل جهادي کاروان کې د ځان په ځير په سلګونو نه بلکي په زرګونو ملګري لري دده نظريه عقيده او جهادي تګ لاره به اوس لا ګړندۍ شي.
دده په زرګونو ملګري دده په موجوديت ډاډه او بيغمه وو .نن به هريو داکوښښ کوي چې د نوموړي خلا ډکه کړي او هريو به دده په ځير ددښمن د سترګو ازغی شي چې په نتيجه کې به په زرګونو غازيان د ملادادالله په ځير د وحشي او يرغلګر دښمن مخي ته لکه د غرونو په شان ودريږي.
نو په خورا جرات سره ويلاي شوچې دنوموړي شهادت به زمونږ په جهادي صفونو کې لانور قوت او خوځښت پيدا کړي .
.زخمونه او شهادتونه د اسلام په قاموس کې تاوان او شکست نه بلل کيږي د اسلام سترتاريخ په ټپر داډول دردونه ،حواديث کړي او زغملي خو د محمدي کاروان سرښندونکو اتلانو چيري هم خپل دښمن دهوسايي او ډاډ موقع نه ده ورکړي کله چې هم کومه خلا رامنځ ته شوي اسلامي غازيانو په خورا ښه توګه ډکه کړي نن دي هم داسلام او افغانستان دښمنان د شهيد اتل ملاد ادالله په شهادت دي خوشحالی نه کوي بلکي ددښمنانو لپاره د غم او خپګان ځاي دی چې اوس به مجاهدين د لوي خداي جل جلاله په نصرت سره د شهيد ملادادالله آخند په انتقام کې دښمن خورا درنه بيه پري کړي دښمنان به ددي لږ خوشحالی په بدله کې په ډيرو زياتو دوستانو د غم اوښکي توی کړي او که دخداي خوښه وه ډير ژربه د اسلامي امارت د لارښونو په رڼاکې له افغاني دود سره سم يرغلګر دښمن د خپل وحشي عمل انتقامي بدله ووينې .
مونږ د نړۍ ټولو دردمندو مسلمانانو او په خاص ډول د افغانستان مجاهد اولس ته اطمينان ورکوو چې د ملادادالله اخند شهادت به داسلامي امارت د مجاهدينو په نظم او مقاومت کې هيڅ منفي اغيزه ونه کړي او زمونږ يرغلګر دښمن به کله هم د اطمينان او خوښ ساه وانخلي .

ګوره غليمه انتقام نه يي بيغمه نشي

دقسات غشي لااوس هم له دي قبرونه وزي

د اسلامي امارت درهبري شوری له خوا